شاه ولی ارین

۲۰۲۰/۰۳/۰۹

# برګه غوا

## لنډه کیسه

ما خوله ډېره کوچنیوالي نه د کلي د لویانو او کوچنیانو نه د یوې غوا او د هغې له پاره د درې تنو نوکرانو کېسې او هنګامې اورېدلې وې.

کله مې هسې سوچونه کول چې څنګه داسې کېدای شي، خو څه موده وروسته داسې راپېښه شوه چې د سرکاتب صاحب له کوچني ځوی سره هم ټولګی شوم. څنګه چې زما سره د دوی د غوا په هکله له ډېر پخوانه سوچونه په زړه کې وو، نو د واره مې د سرکاتب صاحب د ځوی نه وپوښتل، خو په خواشینی سره چې هغه ته دا خبره دومره په زړه پورې ونه برېښېده، ځکه چې هغه په دې هکله خبر هم نه و، مګر زما د ډېر ټینګار له امله یې راسره هوکړه وکړه چې بله ورځ به په دې باب راته یو څه ووایي.

سبا خو زه د نورو ټولو ورځو د مخه ښوونځي ته راغلی وم او د زړه د مېنې ورته سترګې په لار وم، چې کله به هغه راځي. له بده مرغه هغه دوه، درې ورځې ښوونځي ته رانغلو. بله ورځ چې راښکاره شو، نو ما د واره ترې وپوښتل، خو د هغه بیخي له پامه وتلي و. بیا مې خورا ټینګار پرې وکړ او د کېن لاس تر یوې ګوتې مې تار ورتاوکړ، تر څو چې یې زما غوښتنه هرو مرو په پام کې وي، او همداسې هم شوه.

کله چې سهار هغه ښوونځي ته راته بیا هم زه ورته په مخکې ولاړ وم او د زړه له کومې مې ځاره تر څو چې راغی، چې سترګې یې پر ما ولګېدې، نو له خندا نه شېن و، او داسې ښکارېده چې ده ته هم د خپلې غوا په هکله کړې کېسه ډېره په زړه پورې وه، نو ځکه یې د واره راته وویل:

«دا کېسه ډېره په زړه پورې او اوږده ده، ممکن نن خلاصه نه شي»

په همدې شېبه کې د ښوونځي د اوسپنې کړی وټنګول شوه. هغه بېړه لرله چې ټولګي ته ولاړ شي، مګر ما ته کېسه په زړه پورې وه او همدا اوس مې غوښتل چې ژر یې واورم؛ خو هغه ټینګار وکړ چې اوس به ټولګي ته ولاړ شو او په تفریح کې به کېسه سره وکړو.

موږ دواړه ټولګي ته ننوتو ښوونکی چې لوست پیل کړی و زما هیڅ ورته پام نه و، او هماغسې د برګې غوا د نکل د اورېدو په سوچونو کې ورک وم. د انتظار دغه شېبې پر ما لکه کال تېریدې اود دې ارماني وم، چې کله به د اوسپنې کړی ټنګول کېږي.

څو شېبې وروسته کړی وټنګول شوه، زه دومره خوشاله شوم، چې یوازې زه او هغه سره یوځای شو. موږ ډېر ژر د یوې ونې سیوري ته شوو او هغه کېسه داسې پیل کړه:

«ډېر پخوا نیکه په بدخشان کې سرکاتب و، په هغې زمانه کې یې یوه غوا هلته په ۱۲۰ روپیو رانیولې وه. د کلونو په تېریدوسره یې دا اوسنی غوا دوه ویشتمه او که درویشتمه خوسی ده. همدا ډول ولاکه زه هم پوهېږم، چې ولې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په خیر و لولئ

هغې غوا او بیا را وروسته ترې دا نورو ټولو یوازې خوسکۍ زیږولې. وایي چې د پیو اندازه یې هم سره دومره توپیر نه درلوده او ټولې سره برګې وې.

بله دا ربښتیا ده چې درې تنو به د دغو غواوو پالنه او ساتنه کوله.

کچکول به واښه، اوبه او پروړه ورته تیاروله، کوترۍ خوارکۍ به لوښلي او د غړکي، شدو، شړومبو او کوچو چارې به یې ترسره کولې؛ او مېرګل خو لا د غوا د غولانځې د کټه او پورته کولو نه، نه خلاصېدو.
کله به چې دغواوی د لنګون وخت شو. دا ځکه چې یو مېز او یا داسي یو بل برابر شانته شی با ید تل د غوا غولانځې لاندې ایښول شوای وای. د مازیګر له خوا به زموږ په باغ کې هسې ګڼه ګونه وه، ځکه چې له چا سره به کدو د چا سره منګوټی او د چا سره لګن په لاس به د شړومبو لپاره راتلل او په دې هکله هیڅ ستونزه نه وه.

کله کله به ځینو د شدو او کوچوغوښتنه هم کوله، خو هر څه چې کوترۍ کول، دا د هغې کار و. کوتره زموږ د کور ډېره پخوانۍ نوکره وه او ډېر واک یې هم درلود. ډېره په زړه پورې خو دا ده چې ان د همغې زماني نه بیا تر ننه پورې د بدخشان له خلکو سره زموږ اړیکې دومره نږدې دي، چې داسي ورځې به لږ پېښیدې چې زموږ په حوجره کې دې بدخشي مېلمانه نه وای. هر بدخشي چې راته د روغبړ لومړنی تپوس به یې همدا و چې:

برګه غوا څنګه ده؟

ښې شودې کوي؟

او همداسي پوښتنې...

د ثور، جوزا او سرطان په میاشتو کې خو به د ډله ایزو مېلمنو کوربه وو. دا ځکه چې دغه موسم د شولو د نیال وخت دی او د بدخشان اوسیدونکي په ډله ایزه توګه د دغه کار لپاره راځي، خو تر څو چې یې کار موندلی نه وی د برګې غوا د دوستی د اړیکو  له امله زموږ په حوجره کې پراته وې. دا ځکه چې یو خو زما نیکه په بدخشان کې دنده  لرله او تر ټولو نه لوړ برګه غوا زموږ او د هغوي تر منځ د دوستی او خپلولی ښه وسیله او رابطه وه.

په وروستیو کې چې نیکه نور سپین ږیری شوی و، سترګو یې هم سم کار نه کاوه او د امسا په زور کته پورته کېده، کله ـ کله به یې موږ بې له کوم دلیل نه رټلوو، په دې ورځ نیکه هسي نور هم خواشینی و، چې له بده مرغه دوه ډلې غبرګ نیالګر مېلمانه راغلل.

کور کې د پخوا په شان د مېلمنو پالنه وشوه، مګر نیکه هسي له خانه سره غوربده او ځمکي ځای نه ورکاوه. سبا سهار وختي کله چې نیکه له جومات نه راستنیدو، حجرې ته راښکاره شو او د واره یې لالا ته غږ کړ:

«امین جانه ځویه! هغه غوا د خوسی سره همدا اوس دلته راوله»

په ربښتیا چې زموږ په کور کې د نیکه حکم د هغه په ټول ژوند کې نه ګرزیدونکی و. لالا غوا او خوسی راوستې. نیکه له جوماته له ځان سره قصاب هم راوستی و. مګر موږ یو لاهم خبر نه وو او نه پوهیدو چې نیکه څه کوي.
هغه شیبه وروسته ټولو بدخشیو مېلمنو ته غږ کړ او داسي یې وویل:

«والکو راشئ او وګورئ دا دی ستا سو هغه وروستۍ غوا او خوسی چې همدا اوس ستاسو ټولو تر مخې حلالي شوي، غوښې  به یې هم وخورئ او که بدخشان ته یې له ځانه سره وړی هم مو خوښه؛ خو په یو څه باید ښه پوه شئ چې نور مو د برګو غواوو له امله خپلوي، دوستي او پوښتنې خلاصې شوی او خپلو نورو بدخشیو وطنوالو ته هم دغه پیغام ورسوئ: که نور دې لور ته راځئ، ستا سو خوښه، په دواړو سترګو راشئ، مګر د غوا او شودو پوښتنه او خپلولي نوره نه شته».

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ